# إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى رُخَصُهُ، كَمَا يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى عَزَائِمُهُ».? «الله جل جلاله خوښ ګڼي چې له رخصتونو څخه يې ګټه واخيستل شي، لکه څرنګه چې له عزيمتونو څخه يې ګټه اخيستل کيږي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى رُخَصُهُ، كَمَا يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى عَزَائِمُهُ». «الله جل جلاله خوښ ګڼي چې له رخصتونو څخه يې ګټه واخيستل شي، لکه څرنګه چې له عزيمتونو څخه يې ګټه اخيستل کيږي».
[صحيح] [ابن حبان روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: الله جل جلاله خوښوي چې له هغو رخصتونو څخه يې ګټه واخستل شي چې روا کړي يې دي لکه په احکامو او عباداتو کې تخفيف او د عذر پر مهال په مکلف باندې اسانتيا راوستل - لکه د لمانځه قصر او يا په سفر کې - د لمونځونو - جمع کول. لکه څرنګه چې خوښ ګڼي عزيمت يې پر ځای شي لکه واجب کارونه، ځکه په رخصت او عزيمت دواړو کې د الله تعالی حکم يو دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65017

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee